عمومي اسامبله
د امنيت شورا

خپرونه: عمومي
۱۷ مارچ ۲۰۲۰

**عمومي اسامبله**
**څلور اويايمه ناسته**
**د اجنډا ۳۶ ماده**
**د افغانستان وضعيت**

**د امنيت شورا**
**پنځه اويايم کال**

## د افغانستان وضعيت او پر نړيواله سوله او امنيت يې اغيزې

### د عمومي منشي راپور

### ۱. پيژندنه

۱. دغه راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پريکړه ليک او د امنيت شورا د ۲۴۸۹ (۲۰۱۹) پريکړه ليک په تعقيب، په کوم کې چې له عمومي منشي څخه غوښتل شوي و، چې په هرو دريو مياشتو کې د افغانستان د پرمختګونو او تحولاتو په اړه راپور ر ورکړي، وړاندې کيږي.

۲. د ۲۰۱۹ کال د ډسمبر پر ۱۰ نېټه زما د پخواني راپور (A/74/582–S/2019/935) له خپريدو راهيسې او د ۲۰۲۰ کال د فبروري تر پای پورې، دغه راپور د سياسي، بشري، پرمختيايي او بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعاليتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

### ۲. اړوند پرمختګونه

۳. د راپور ورکولو په موده کې د ټاکنو پروسې په اړه بې باوري او د امريکا د متحده ايالاتو او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو بيرته پيليدل په افغانستان کې د سياسي تحولاتو او پرمختګونو مخکښه موضوعګانې وې. د فبروري پر ۱۸ نېټه، د ټاکنو خپلواک کميسيون اعلان کړه چې اشرف غني په ۵۰.۶۴ سلنه رايو خپلولو سره د دويم ځل لپاره د ولسمشرۍ ګټونکی شو. دغه پايلې د اجرائيه رييس عبد الله عبد الله له خوا د "ناقانونه" هغو په څير رد شوې او پر ځای يې د يوه "ټول شموله" حکومت د جوړولو پلانونه اعلان کړل. په ورته وخت کې، د ډسمبر پر ۶ نېټه د متحده ايالاتو او طالبانو ترمنځ خبرې اترې بېرته پيل شوې. د فبروري پر ۲۲ نېټه په تاوتريخوالي د کموالي تر پيليدو وروسته، دواړو خواوو په دوحه کې د فبروري پر ۲۹ نېټه د بهرنيو ځواکونو د وتلو لپاره د موديې په ټاکلو او د تروريزم ضد تضمينونو سره تړون لاسليک کړ. په موازي ډول، افغانستان او متحده ايالاتو په کابل کې يو ګډ پريکړه ليک لاسليک کړ، چې له افغانستان سره يې د ملاتړ د دوام لپاره خپلې ژمنې تاييدولې. دغه پرمختګونه به د بين الافغاني مذاکراتو لپاره د لار په هوارولو کې مرسته وکړي. په تاوتريخوالي کې د کموالي له موديې پخوا د لوړ شمير امنيتي پېښو په درلودو سره په ځانګړي ډول د هيواد په جنوبي، شمالي او ختيځو سيمو کې، امنيتي وضعيت بې ثباته او تاوتريخجن و. د ۲۰۱۹ کال لپاره، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (يوناما) ۱۰۳۹۲ ملکي تلفات مستند کړي، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۵ سلنه کموالی په ډاګه کوي. بشري وضعيت لا اوس هم ناوړه دی.

**الف. سیاسي تحولات**

۴. د ډسمبر پر ۲۲ نېټه، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر پر ۲۸ نېټه د ترسره شویو ولسمشریزو ټاکنو لومړنۍ پایلې اعلان کړې، کومو چې راپور یې ورکاوه چې ښاغلي غني د رایو ۵۰.۶۴ سلنه خپله کړې په داسې حال کې ښاغلي عبدالله ۳۹.۵۲ سلنه ګټلي. د پایلو تر اعلان وروسته د ولسمشرۍ د ځینو نوماندانو له خوا د تفتیش او بیا شمیرنې پروسې اوږد مهاله بندیدنه او د نوماندانو لپاره د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون ته د خپلو شکایتونو د سپارلو په یوې درې ورځنۍ مودې سره پیل شوه. نوموړي کمیسیون ټولټال ۱۶۵۴۵ شکایتونه ثبت کړل چې په عمده ډول د ښاغلي عبد الله (۵۵۶۴)، ګلبدین حکمتیار (۳۷۱۱) او ښاغلي غني (۳۳۰۲) د ټیمونو له خوا سپارل شوي وو.

۵. د جنوري پر ۱۴ نېټه، د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون خبر ورکړ چې د دغه کمیسیون ولایتي دفترونو په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د شکایتونو په اړه خپل قضاوت بشپړ کړی، چې د شواهدو د نشتون له امله یې ۹۸۶۶ شکایتونه (۶۰ سلنه) رد کړي او د رایې اچونې ۱۰۹ مرکزونه یې باطل کړي. تر دې اعلان وروسته د ترسره شویو پریکړو په خلاف د استیناف کولو بله درې ورځنۍ موده پیل شوه.

۶. د فبروري پر ۴ نېټه، د ټاکنو د ملاتړ ډلې چې د یوناما له خوا یې مشري کیده او د کلیدي انتخاباتي مرستندویانو څخه تشکیل شوې وه، د یوې اعلامیې په خپرولو سره له ټاکنیزو ادارو وغوښتل چې بې پرېتوب، روڼوالی او له انتخاباتي قوانینو سره اطاعت ډاډمن کړي. نوموړې ډلې دغه راز پر شریکانو غږ وکړ چې د ټاکنیزو ادارو خپلواکۍ ته درناوی وکړي.

۷. د فبروري پر ۵، د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون د ۶۲۹۲ استیناف غوښتنو چې په مختلفو کټګوریو کې ډلبندي شوې وې، د قضاوت په اړه خپلې اوو پریکړې اعلان کړې. دغه پریکړې په اصلي ډول د ۱۳۷۶۳۰ شکمنو رایو، د ۱۰۲۰۱۲ هغو رایو چې د ادعاوو له مخې د ټاکنو له ساعتونو بهر اچول شوي، د ۲۴۲۳ انتخاباتي مرکزونو چیرې چې د رایه اچونکو بایو مټریک نه و ترلاسه شوی او هغو قضیو د شکایتونو په اړه وې په کومو کې چې د رایه اچوونکو شمیر د بایو مټریک د وسایلو په پرتله د پایلو په پاڼو کې توپیر درلود. د کمیسیون له پریکړو سره سم، د ۳۱۱ انتخاباتي مرکزونو چې شکمنې رایې درلودې، د ۱۰۸۶ انتخاباتي مرکزونو چې د ټاکنو له ساعتونو بهر په کې رایې کارول شوې وې د ځانګړې تفتیش او د ۲۹۸ هغو انتخاباتي مرکزونو د رایو د بیا شمیرنې امر شوی چیرې چې رایه اچوونکي د بایو مټریک له لارې نه وو تایید شوي. د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمسیون پریکړې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته متوجه وې چې ځانګړې تفتیشونه ترسره او په رسمي ډول وروستۍ پایلې اعلان کړي.

۸. تر دغو پریکړو وروسته، د څار ملي ادارو او د نوماندانو څارونکو د پریکړو د وضاحت او قانوني بنسټ په اړه خپل اندېښنې څرګندې کړې. د ښاغلي عبد الله، ښاغلي حکمتیار او ښاغلي نبیل ټیمونو د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون پریکړې رد کړې، او په ډاګه یې کړه چې دغه پریکړې تر سیاسي فشارونو لاندې ترسره شوي. د میتودولوژۍ پر سر د کمیسیون د یو شمیر کمیشنرانو ترمنځ اختلاف راڅرګند شو کوم چې پر دغې پروسې د خلکو باور لا زیات زیانمن کړ. د ډاکټر عبد الله د انتخاباتي ټیکټ په ګډون، د ولسمشرۍ یو شمیر ټیکټونو په ځانګړو تفتیشونو او د لانجمنو رایو د بیا شمیرنې په پروسه کې له ګډون څخه انکار وکړ او دغه طرز العملونه یې تر پوښتنې لاندې راوستل.

۹. د فبروري پر ۱۶ او ۱۷ نېټه، د ځانګړو تفتیشونو او بیا شمیرنې تر بشپړیدو وروسته، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د فبروري پر ۱۸ نېټه اعلان کړه چې ښاغلي اشرف غني د ۵۰.۶۴ سلنه رایو په خپلولو سره د دویم ځل لپاره د ولسمشرۍ ګټونکی شو. ښاغلي عبد الله د رایو د ۳۹.۵۲ سلنې په خپلولو سره دویم ځای ګټلی. د ټاکنو کمیسیون ۱.۸ میلیونه باوري رایې تایید کړې، چې ۳۱.۵ سلنه یې د ښځو له خوا کارول شوې وې. دغه اعلان د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر پر ۲۸ نېټه د ترسره شویو ولسمشریزو ټاکنو وروسته تر یوې اوږدې پروسې چې د څلور میاشتې لپاره یې دوام وکړ، رامنځ ته شو.

۱۰. د پایلو تر اعلان وروسته، ښاغلي غني د یوه پیاوړي حکومت د جوړولو لپاره خپل چمتوالی او د یووالي لپاره کار کول په ډاګه کړل او و یې ویل د ښځو ګډون به خورا مهم وي. ښاغلي عبد الله د "پاکو رایو" پر بنسټ د ثبات او همپالنې خپل انتخاباتي ټیکټ ګټونکی اعلان کړ او د بل "ټول شموله" حکومت د جوړولو لپاره یې خپله اراده په ډاګه کړه. تر دغه اعلان وروسته، د عبد الله انتخاباتي ټیکټ د ځینو والیانو د ګمارنې اعلانول پیل کړل. د ملګرو ملتونو په ګډون نړیوالو شریکبانو پر ونډه والو غږ وکړ چې له حوصلې کار واخلي او خپلو اختلافاتو ته د خبرو اترو او اساسي قانون ته د درناوي له لارې رسیدګي وکړي.

۱۱. د راپور ورکولو په موده کې، د جګړې د پای ته رسولو لپاره د سیاسي حل په لور خوځښت د داخلي او نړیوالو هڅو له خوا پیاوړی شوی. د طالبانو او متحده ایالاتو ترمنځ رسمي خبرې اترې په دوحه کې د ډسمبر پر ۶ نېټه بېرته پیل شوې. د ډسمبر پر ۱۲ نېټه، د افغانستان د سولې او پخلاینې لپاره د متحده ایالاتو ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په خبرو اترو کې "لنډه درېدنه" اعلان کړه او په ډاګه یې کړه چې "طالبان باید وښیي چې هغوي د سولې لپاره د افغانانو غوښتنې ته د ځواب ویلو لپاره چمتو دي". دغه خبرې اترې د راپورونو له مخې د طالبانو د مشرتابه ترمنځ په تاوتریخوالي کې د وړاندیز شوي کمښت په اړه تر داخلي سلا مشورو وروسته د جنوري په نیمه یې کې بیرته پیل شوې.

۱۲. ښاغلي خلیلزاد خپل ګډون او تعامل له سیمه شریکبانو سره جاری ساتلی و. د ډسمبر پر ۱۷ او ۱۸، د فبروري پر ۱ او ۲ او د فبروري له ۱۸ تر ۲۷ پورې له کابل څخه د لیدنو پر مهال، هغه په دوحه کې د مذاکراتو د هغو هڅو په اړه چې تاوتریخوالی کم او د بین الافغاني مذاکراتو لپاره لار هواره کړي، ښاغلي غني، ښاغلي عبد الله او نورو افغان سیاسي فعالینو ته معلومات وړاندې کړل. هغه پر دې ټینګار وکړ چې افغانان باید د بین الافغاني مذاکراتو لپاره په چمتوالي کې د یوه ټول شموله مذاکراتي ټیم پر رامنځ ته کولو خپل تمرکز جاري وساتي. ښاغلي خلیلزاد همدارنګه د ډسمبر پر ۱۳، د جنوري پر ۳۱ او فبروري پر ۱۷ او ۱۸ له پاکستان څخه لیدنې وکړې چیرې چې هغه د بهرنیو چارو له وزیر شاه محمود قریشي، د پوځ له مشر قمر جاوید باجوه او نورو چارواکو سره لیدلي څو د د تاوتریخوالي په کمولو او د بین الافغاني مذاکراتو سره سم په یوه ټول اړخیز اوربند کې د ملاتړ لپاره د دوه اړخیزو هڅو په اړه مباحثې ترسره کړي.

۱۳. د اوربند په پرتله په تاوتریخوالي کې د کموالي لید لوري یو شمیر غبرګونونه راوپارول. د ښاغلي غني ویاند په ډاګه کړه چې د بین الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره اوربند یو مخکینی شرط و، په داسې حال کې چې ښاغلي عبد الله په ډاګه کړه چې په تاوتریخوالي کې کمښت په دې شرط د منلو وړ دی، چې په مذاکراتو کې د اوربند موضوع ته رسیدګي وشي. د فبروري په ۱۱ نېټه، ښاغلي غني د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ په خبرو اترو کې د پرمختګونو هرکلی وکړ او د دې یادونه یې وکړه چې افغانستان به "په یوې داسې طریقه راتلونکې ګامونه/پړاونه اداره کړي چې په مثبت ډول د سولې له ټولې پروسې سره مرسته وکړي". ښاغلي عبد الله هم په تاوتریخوالي کې د کمښت په اړه په خبرو اترو کې د پرمختګونو هرکلی وکړ او هیله یې ښکاره کړه چې طالبان به له دغه فرصت څخه ګټه پورته کړي. د فبروري پر ۱۸، دولت په ښکاره ډول په تاوتریخوالي کې خپلې ژمنې څرګندې کړې او د بین الافغاني مذاکراتو پر مهال یې د اوربند اړتیا په ډاګه کړه. په داسې حال کې چې ګوندونه د بین الافغاني مذاکراتو لپاره د خپلو پلانونو پر معرفي کولو بوخت وو، د یوه ټول شموله مذاکراتي ټیم د جوړولو لپاره له دولت او نورو سیاسي فعالینو سره مباحثو دوام درلود.

۱۴. نړیوالو شریکبانو په افغانستان د سولې لپاره د خپلو ژمنو د تاییدول جاري ساتلي. د جنوري پر ۲۸ نېټه، د ناټو سرمنشي ینز سټولټنبرګ یو ځل بیا په افغانستان کې د سولې لپاره د شرایطو له رامنځ ته کولو سره د خپل سازمان د ژمنو یادونه وکړه. د جنوري پر ۳۰ نېټه په بروکسل کې د یوې ناستې په ترڅ کې اروپایي اتحادیې د ناټو غړو دولتونو یو ځل بیا د سولې پروسې او د ټول شموله بین الافغاني مذاکراتو لپاره د خپل ملاتړ یادونه وکړه. د فبروري پر ۱۳ نېټه، د ناټو ایتلاف او همکارو ملتونو په بروکسل سره راغونډ او د غوڅ ملاتړ ماموریت د ملاتړ په اړه یې مباحثې ترسره او "د افغانستان د اوږد مهاله امنیت او ثبات لپاره یې خپلې ټینګې ژمنې" څرګندې کړې. ښاغلي سټولټنبرګ پر دې ټینګار وکړ چې افغان امنیتي ځواکونو ته د روزنې او مالي ملاتړ پر برابرونې تمرکز به ادامه پیدا کړي. د مونیخ په امنیتي کنفرانس کې چې د فبروري پر ۱۵ ترسره شو، ښاغلي سټولټنبرګ د ناټو ځواکونو د تنظیمولو شونتیا ومنله څو د بین

الافغاني مذاکراتو لپاره لار هواره شي، په دې شرط که چیرې طالبان د تاوتریخوالي د کموالو اراده په ډاګه او د سولې خبرې اترې ترسره کړي.

۱۵. د فبرورې پر ۲۱ نېټه، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو اعلان کړه چې د متحده ایالاتو مرکچیان له طالبانو سره "په ټول افغانستان کې د پام وړ تاوتریخوالي په کمولو" کې یوه تفاهم ته رسیدلي. هغه په ډاګه کړه چې د تاوتریخوالي د کمښت مودې په پای ته رسیدو سره د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د تړون د لاسلیک کیدو تمه کیږي. طالبانو د یوې اعلامیې په خپرولو سره د تړون پخلی وکړ او خپلو جنګیالیو ته یې د تاوتریخوالي د کمولو په اړه لارښوونې برابرې کړې، او دغه راز یې د دې یادونه وکړه چې دواړه خواوې به "د بین الافغاني مذاکراتو لپاره لار هواروي". د فبرورې پر ۲۱ نېټه، ښاغلي غني د تاوتریخوالي د کموالی هرکلی وکړ او افغان وګړو ته یې د دې ډاډ ورکړ چې د هیواد امنیتي ځواکونه به د تړون پیروي کوي، او زیاته یې کړه چې د طالبانو له خوا په تاوتریخوالي کې د کمښت منل "یوه اوربند ته د رسیدو او د یوې پایښتونکې سولې د راوستلو په لور یو مهم ګام ګڼل کیږي". د فبرورې پر ۲۲ نېټه، په تاوتریخوالي کې د کموالي موده پیل شوه.

۱۶. د فبرورې پر ۲۹ نېټه په دوحه کې، متحده ایالاتو او طالبانو افغانستان ته د سولې راوستلو تړون لاسلیک کړ، کوم چې په ۱۳۵ ورځو کې ۸۶۰۰ سرتیرو ته د متحده ایالاتو د ځواکونو راکمونه او دغه راز د ایتلافي ځواکونو په شمیر کې نسبي کمونه په ډاګه کوي، چې په تعقیب به یې د نورو نهه نیمو میاشتو په د ننه کې د ټولو ځواکونو ایستل ترسره کیږي، چې د طالبانو له خوا د تروریزم سره د مبارزې د مختلفو ژمنو په پوره کولو پورې مشروط دي. په ورته ورځ په کابل کې ، د افغانستان د سولې راوستلو لپاره د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د متحده ایالاتو ترمنځ ګډه اعلامیه خپره شوه، چې په کې د افغانستان، متحده ایالاتو او ایتلافي ملګرو ترمنځ د تړون یادونه شوې چې د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د هوکړې پر اساس د طالبانو له خوا د ژمنو په پوره کولو او د امنیتي اهدافو د تر لاسه کولو لپاره د نړیوالو ځواکونو اوسنۍ کچې ته د اړتیا په نه لرلو پورې مشروط دي. د اعلامیې غړو هیوادونو همدارنګه له افغان امنیتي ځواکونو او نورو دولتي ادارو سره د متحده ایالاتو د ملاتړ د ژمنې بیا یادونه وکړه. په دواړو سندونو کې د متحده ایالاتو د هغو هڅو یادونه شوې چې له افغانستان او طالبانو سره د باور جوړونې د تدابیرو د رامنځ ته کولو په موخه ډیالوګ تسهیل کړي، لکه تر بین الافغاني مذاکراتو مخکې د بندیانو او توقیفیانو احتمالي خوشې کول او د طالبانو پر غړو د امنیت شورا د بندیز د ممکنه لرې کولو په تړاو د ډیپلوماتیکو هڅو ترسره کول. تمه کیږي چې د دایمي اوربند د نېټې او نمونو په اړه په بین الافغاني مذاکراتو کې مباحثې ترسره شي.

۱۷. ځایي خوځښتونو د سولې لپاره خپله مدافعه جاري ساتلې. د راپور ورکولو په موده کې، د ټولنې استازو، فعالینو او خود جوشه حرکتونو له ځایي ټولنو سره سلا مشورې تسهیل کړي او د یوې ټول شموله سولې د ملاتړ د تر لاسه کولو لپاره یې غونډې تنظیم کړې. د ډسمبر پر ۲۴ نېټه، د سولې د ولسي حرکت ۲۷ غړي د یو لړ ځایي سلا مشورو د ترسره کولو پر مهال په فراه ولایت کې وتښتول شول او دوه ورځې وروسته بیرته خوشې کړای شول. د فبرورې پر ۱۶ نېټه، د سولې ولسي حرکت په غزني ولایت د سولې په ملاتړ یو لاریون ترسره کړ، چې د پښتنو، هزاره ګانو او تاجکو ټولنو څخه په کې ۴۰۰ خلکو ګډون کړی و. ګډونوالو د پایښت لرونکې سولې، اوربند او د تاوتریخوالي پای ته رسولو غوښتنه کوله.

۱۸. یوناما له داخلي، سیمه ییزو او نړیوالو شریکانو سره خپل تعامل جاري ساتلی څو د تاوتریخوالي د کموالي او د بین الافغاني مذاکراتو لپاره د یوه خوځښت د رامنځ ته کولو لپاره مدافعه وکړي. د ډسمبر پر ۲۸ نېټه، د افغانستان لپاره زما ځانګړي استازي تدامیچي یاماموتو په دوحه کې د طالبانو له استازو سره ولیدل څو د سولې پروسې، د ولسي وګړو د ساتنې او بشري لاس رسي په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د جنورې پر ۱۷ نېټه، هغه په دوحه کې د افغانستان په اړه د ځانګړو استازو یو ګروپ جوړ کړ چې د سولې پروسې په راتلونکو پړاونو کې د نړیوالو په ملاتړ د وضعیت جاج واخلي. د جنورې له ۲۶ تر ۲۸ له ایران څخه او د فبرورې له ۱۶ تر ۱۹ پورې له پاکستان څخه د خپلو لیدنو پر مهال، هغه د ایران د بهرنیو چارو له وزیر محمد جواد ظریف او د پاکستان د بهرنیو له وزیر شاه محمود قریشي او دغه راز له نورو چارواکو سره د سولې پروسې په اړه مباحثې ترسره کړې.

۱۹. د راپور ورکولو په موده کې، یوناما د سولې د اتو نوښتونو له لارې له ځايي چارواکو او ټولنو سره د شخړو په حل کې خپل ملاتړ جاري ساتلی. په هلمند ولایت کې، یوناما د ديني عالمانو او ښځو ترمنځ د ډیالوګ یو پلاټفورم رامنځ ته کړ څو د تاوتریخوالي د راکمولو او د سولې په ملاتړ کې د ښځو، ځوانانو او لږکیو د رول د پیاوړتیا په اړه ځايي هڅو ته وده ورکړي. یوناما په هرات، بادغیس، غور او فراه ولایتونو کې، د پنځو میاشتو په موده کې له ۱۰۰۰ څخه زیاتو ښځو سره کار کړی څو له هغوي سره د سولې په اړه د یوه لیدلوري په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړي. د جنوري پر ۹ نېټه، ۱۰۰ ګډونوالو یو ۱۳ نکته ییز پریکړه لیک خپور کړ چې د تیرو ۱۸ کلونو د لاسته راوړنو د ساتنې، تیرو ظلمونو ته د رسیدګۍ، پر قربانیانو د متمرکزې سولې پروسې د ډاډمن کولو او د سولې د نهايي تړون د څارنې لپاره د څارنې میکانیزم د جوړولو اړتیا یې په ډاګه کوله. د ډسمبر له ۱۵ تر ۱۷ پورې، یوناما په کابل کې له افغان میرمنو سره د سولې په پروسه کې د ستراتیژیک ګډون په اړه یو ورکشاپ په ګډه رهبري کړ. د فبروري پر ۱۲ نېټه، نوموړي ادارې د نارینتوب له ملي ایتلاف، د مدني ټولنې د استازو، ديني مشرانو، دولتي چارواکو او د خصوصي سکتور یوه شبکه، سره ډیالوګ تسهیل کړی. ګډونوالو هوکړه وکړه چې د ديني مشرانو په ګډون د شبکې نارینه اتلان بسیج کړي څو د جنډر برابرۍ ته وده ورکړي او د سولې په پروسه کې د ښځو موثر ګډون پیاوړي کړي. د فبروري پر ۲۰ نېټه، یوناما د ښځینه فعالانو په ګډون له دولتي او مدني ټولنې له مشرانو سره سلا مشورې ترسره کړي څو په حکومت او په پراخه کچه په بین الافغاني مذاکراتو کې د ښځو له مشرتابه نقشونو ملاتړ وکړي.

۲۰. یو لړ نوې دولتي ګمارنې ترسره شوې. د جنوري پر ۱۴ نېټه، ولسمشر غني د کورنیو د وزارت لپاره نوی وزیر مرستیال، د دفاع وزارت لوی درستیز او د کورنیو چارو د وزارت د ښوونې او روزنې ریاست رییس وټاکل. د جنوري پر ۲۱ نېټه، نوموړي د بهرنیو چارو نوي سرپرست وزیر محمد هارون چخانسوري وګماره. دغه راز د ترانسپورت او هوايي چلند لپاره د محمد یما شمس، او انرژۍ او اوبو لپاره خان محمد تکل ګمارنه د نویو سرپرست وزیرانو په څیر اعلان شوې. د ډسمبر پر ۳۰ نېټه، پارلمان د سولې په چارو کې د دولت وزارت د یوې خپلواکې دولتي ادارې په څیر تصویب کړ. د جنوري پر ۸ نېټه، ښاغلي غني د یوه فرمان په لاسلیک کولو سره نوموړې وزارت ته په ټولو اړوندو وزارتونو کې د سولې اړوند موضوعګانو د همغږۍ لارښوونه وکړه. د جنوري پر ۲۲ نېټه، پارلمان د ۲۰۲۰ مالي کال لپاره ملي بودجه تایید کړه په کومه کې چې د نوموړې وزارت لپاره بودجه هم شامله وه. پارلمان هم د سولې یوه کمېټه تاسیس کړه څو د سولې له هڅو سره مرسته وکړي، کومې چې خپله لومړۍ ناسته د جنوري پر ۱۴ نېټه ترسره کړه.

**ب. امنیت**

۲۱. امنیتي وضعیت لا اوس هم تاوتریخجن او بې ثباته دی. د نومبر د ۸ او فبروري د ۶ ترمنځ، یوناما د تیر کال د ورته مودې پر مهال د ورته شمیر په څیر، ۴۹۰۷ امنیتي پېښې ثبت کړې. لوړ شمیر پېښې په جنوبي او په تعقیب یې شمالي سیمو کې رامنځ ته شوې، چې دواړه یو ځای د ټولو پېښو ۶۸ سلنه جوړوي. د جګړې تر ټولو فعالې سیمې د کندهار، هلمند، ننګرهار او بلخ ولایتونه وو. له موسمي جریاناتو سره د په ژمنیو میاشتو د ۲۰۱۹ کال په پای او د ۲۰۲۰ کال په لومړیو ک ښنښتې راکمې شوې. د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو او له افغان دولت سره د سلا مشورو په پایله کې په ټول هیواد کې د تاوتریخوالي کموالي موده د فبروري پر ۲۲ پیل شوه.

۲۲. تاسیس شوي جریانات بې له کوم بدلون څخه پر خپل حال پاتې دي، ۲۸۱۱ وسله والې نښتې د ټولو پېښو ۵۷ سلنه جوړوي او په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله ۴ سلنه کموالی په ډاګه کوي. د لاس جوړ چاودیدونکو توکو کارونه د پېښو دویم مخکښ نوعیت دی چې په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله ۲۱ سلنه زیاته شوې، په داسې حال کې چې ځانمرګي بریدونه ۲۵ سلنه راکم شوي. د راپور ورکولو په موده کې د افغان او نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا ۳۳۰ هوايي بریدونه په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله ۱۸ سلنه کموالي په ډاګه کوي. هلمند، کندهار او فراه ولایتونه د ټولو هوايي بریدونو ۴۴ سلنه جوړوي.

۲۳. د ډسمبر پر ۳۱ نېټه، د راپورونو له مخې طالبانو د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو تر وتلو وروسته په جوزجان ولایت کې پر درزاب ولسوالۍ خپله ولکه ټېنګه کړه. طالبانو دغه راز په زابل ولایت کې په موقت ډول د ارغنداب

ولسوالۍ ونیوله په داسې حال کې چې افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په بغلان ولایت کې د ګذرګاه نور ولسوالۍ بېرته ونېوله کومه چې د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر راهیسې د طالبانو تر ولکې لاندې وه.

۲۴. د پخواني مودې د ۳۱ بریدونو او په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې د ۱۲ بریدونو په پرتله د راپور ورکولو په موده کې د ۸ ځانمرګو بریدونو په ثبتونې سره د دولت ضد عناصرو له خوا د لوړې کچې بریدونو دوام درلود. د دغو بریدونو زیاترو هغو ېې افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه او نړیوال نظامي ځواکونه په نښه کړي. د ډسمبر پر ۱۱ نېټه، طالبانو د بګرام نظامي اډې په ضد په یوه ستره لارۍ کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په ځانمرګې چاودنې سره ډله ییز برید ترسره کړ. دغه برید د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو د بېرته پیلیدو سره هم مهاله ترسره شو. طالبانو همدارنګه په کندهار، هلمند او بلخ ولایتونو کې د افغان ملي دفاعي او نظامي ځواکونو د تاسیساتو پر ضد په موټر کې د ځای پر ځای شویو چاودیدنکو ځانمرګې بریدونه ترسره کړي. د فبروري پر ۸ نېټه، یوه فرد چې د افغان ملي اردو یونیفورم ېې پر ځان و پر نړیوالو نظامي ځواکونو ډزې وکړې چې د متحده ایالاتو دوه سرتیرې او د افغان ملي اردو یو سرتیری ېې ووژل. یوه ځانمرګې برید په کابل کې د فبروي پر ۱۱ نېټه یوه نظامي اکاډمي په نښه کړه، چې له میاشتو راهیسې په ښار کې تر ټولو ستر برید ګڼل کیږي او له امله ۶ وګړي ووژل شول او ۱۰ نور ټپي شول. د دغه برید مسوولیت چا پر غاړه نه دی اخیستی.

۲۵. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډله د افغانستان په ختیځ کې په خپلو مرچلو کې تر سخت فشار لاندې ونېول شوه. د راپورونو له مخې له اکتوبر راهیسې د نوموړې ډلې له ۱۴۰۰ څخه زیات جنګیالي تسلیم شوي چې ترمنځ ېې ښځې او ماشومان هم شامل دي. په داسې حال کې چې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډله تر ډیره له ننګرهار ولایت څخه ایستل شوې، خو د راپورونو له مخې د کونړ ولایت په شا و خوا سیمو کې شتون لري. د راپور ورکولو د تیرې مودې د ۱۹۴ او په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې د ۶۸ پېښو په پرتله، د راپور ورکولو په موده کې ۴۹ پېښې نوموړې ډلې ته منسوب شوې. په داسې حال کې چې دغې ډلې ته کوم د لوړې کچې برید نه دی منسوب شوي یا ېې د دغې ډلې له خوا مسوولیت نه دی منل شوی، خو بیا هم په لویو ښارونو کې د بریدونو په ګډون د راتلونکو بریدونو د ترسره کولو لپاره د دغې ډلې پوټنشیال یو ګواښ ګڼل کیږي.

۲۶. د نومبر پر ۲۴ نېټه د ملګرو ملتونو یو کارمند هغه مهال ووژل شو او دوه نور ټپیان شول کله چې په کابل کې د دوي په موټر پورې نښلول شوې چاودیدونکې وسیله وچاودیده. د لاس جوړ چاودیدونکې وسیلې د یوې پېښې، د تهدیدونو د ۴ پیښو او ۶ جنايي پیښو په ګډون، د راپور ورکولو په موده کې د ملګرو ملتونو د کارمندانو په خلاف ۱۲ پیښې رامنځ ته شوې. د ډسمبر پر ۴ نېټه، د یوې جاپانۍ نا دولتي اداري ریسس له پنځو افغانانو سره یو ځای په جلال اباد ښار کې په ډزو ووژل شول. د ډسمبر پر ۲۷ نېټه د هرات په ښار کې دوه وسله والو کسانو د یوې شخصي امنیتي کمپنۍ دوه ساتونکې ووژل، څوک چې د ملګرو ملتونو د کمپاونډ لپاره د غیر وسله وال امنیتي خدمتونو د برابرولو قراردادیان وو.

## ج. سیمه ییزه همکاري

۲۷. افغانستان د څو اړخیزو غونډو له لارې له سیمې سره خپل تعامل او ګډون جاري ساتلی. د ډسمبر پر ۹ نېټه، ترکیه د اسیا زړه د وزیرانو د سرمشریزې کنفرانس کوربه وه، په کوم کې چې ښاغلي غني د بین الافغاني خبرو اترو د ترسره کولو لپاره یو لړ ګامونه وړاندې کړل. د کنفرانس په تعقیب د استانبول په اعلامیه کې ګډونوالو هیوادونو او شریکبانو د سولې پروسې د پیاوړې کولو لپاره یو ځل بیا د خپلو ژمنو یادونه وکړه. دوي د باور جوړونې د تدابیرو لپاره د اسیا زړه – استانبول پروسې کاري لارښوونې او د تطبیق پلانونه تصویب کړل، د کرنیزې پرمختیا د مدیریت په اړه ېې د باور جوړونې د نوي اقدام تاسیسول تایید کړل او د چاپیریال ساتنې د شاملولو په موخه ېې د ناورین د مدیریت په اړه د باور جوړونې اقدام پراخ کړ. همدارنګه د ښځو د ځواکمنتیا په اړه د باور جوړونې د اقدام د رامنځ ته کولو له وړاندیز ملاتړ وشو. تاجکستان هوکړه وکړه چې له افغانستان سره په ګډه د ۲۰۲۰ کال د وزیرانو د کچې کنفرانس رهبري کړي او کوربه ېې و اوسي.

۲۸. د کنفرانس په څنډو کې، افغانستان، متحده ایالاتو او ازبکستان یو دري اړخیز فارمټ پرانیست څو د ګډو ګټو او همکارۍ د موضوعګانو په اړه مباحثې ترسره کړي. لومړنۍ مباحثې د افغانستان او ازبکستان ترمنځ د ستراتیژیک مشارکت پر رامنځ ته کولو، د سوداګرۍ پر دوه اړخیزې همکارۍ، ترانزیت او پانګونې او د سیمه ییز نښلون او سوداګرۍ لپاره د متحده ایالاتو پر ملاتړ متمرکزې وې.

۲۹. د جنوري پر ۱۴ نېټه، په پاکستان کې د ګوادر بندر په رسمي ډول د افغانستان-پاکستان د ترانزیت د سوداګرۍ تړون لاندې د کارګو اخیستل پیل کړل، چې لومړۍ محموله یې بار او د بلوچستان ولایت د چمن پولې له لارې افغانستان ته ولیږدول شوه. دغه کار د چین-پاکستان د اقتصادي دهلیز د یوه عنصر په څیر د ۲۰۱۹ کال په اکتوبر کې د تجارتي حمل و نقل لپاره د بندر تر رسمي پرانیستل کیدو وروسته رامنځ ته شو. د فبروري پر ۴ نېټه، هندوستان په ایران کې د چاه بهار بندر د لا زیاتې پراختیا لپاره ۱۳.۹ میلیونه امریکایي ډالر تخصیص کړل، چې د دغه بندر له لارې له هندوستان څخه افغانستان ته لا وار د مخه ځینې کارګو رسیدلي.

۳۰. افغانستان د مرکزي اسیا له دولتونو سره د خپل تعامل او مشارکت پراخول جاري ساتلي. د جنوري پر ۲۸ نېټه، د افغانستان د بهرنیو چارو مرستیال وزیر په برلین کې د زرغونې مرکزي اسیا د نوښت پر لار اچولو په اړه په یوه ناسته کې ګډون وکړ چې د جرمني د بهرنیو چارو وزیر هیکو ماس، او د قزاقستان، قرغستان، تاجکستان، ترکمنستان، ازبکستان د بهرنیو چارو وزیران او د بهرنیو چارو او امنیتي پالیسي لپاره د اروپايي اتحادیې د لوړ پوړي استازي یې کوربانه وو. د مرکزي اسیا په اړه د ستراتیژۍ د یوې برخې په څیر چې د اروپايي شورا له خوا په ۲۰۱۹ کال کې تصویب شوه، نوموړی نوښت د اقلیم د بدلون او د ملو ګواښونو د سیمه ییز ډیالوګ ملاتړ کوي، او له همدې امله د شپږ دخیلو هیوادونو ترمنځ لا زیات سیمه ییز مشارکت هڅوي.

۳۱. د فبروري پر ۱ نېټه، ښاغلي غني د ترکمنستان د بهرنیو چارو له وزیر رشید میردوف سره په کابل کې وکتل، څو د دوه اړخیزو اړیکو، سولې د هڅو او د ټاپي ګازو نل لیکې او د ترکمنستان-افغانستان-پاکستان د برېښنا د لیږدې پروژو په ګډون د دواړو هیوادونو ترمنځ د نښلون د پروژو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د ۲۰۱۸ کال په فبروري کې په افغانستان د ټاپي پروژې تر پرانیستل کیدو وروسته، د سیاسي بې ثباتۍ او امنیتي ننګونو له امله د نوموړې پروژې ساختماني چارې له ننګونو سره مخ شوي.

۳۲. د فبروري پر ۲ نېټه، د افغانستان لپاره د ایران اسلامي جمهوریت ځانګړي استازي ابراهیم طاهریان په کابل کې له ښاغلي غني، ښاغلي عبد الله، پخواني ولسمشر حامد کرزي او د ملي امنیت سلاکار حمد الله محب سره وکتل. د دوي ترمنځ خبرې اترې پر دوه اړخیزو اړیکو، اقتصادي همکارۍ، له ترورېزم او افراطیت سره پر مبارزې او د نشه یي توکو د قاچاق پر مخنیوي متمرکزې وې. د ولسمشر دفتر په ډاګه کړه چې دواړو خواوو د دوه اړخیزو اړیکو پر پراختیا هوکړه کړې.

۳۳. د فبروري پر ۶ نېټه، ښاغلي غني د کابل ولایت په سروبي ولسوالۍ کې د کاسا د انرژۍ پروژې بنسټ ډبره کېښوده. څرنګه چې نوموړې پروژه مرکزي اسیا له جنوبي هغې سره نښلوي، د پاکستان، تاجکستان او ترکمنستان سفیرانو په دغو مراسمو کې ګډون کړی و. دغه پروژه، چې اټکل کیږي په ۲۰۲۲ کال کې به بشپړه شي، به له قرغزستان او تاجکستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان ته ۱۳۰۰ میګا واټه برېښنا ولیږدوي. د پروژې ساختماني چارې د نړیوال بانک په ملاتړ په تاجکستان او قرغزستان کې پیل شوي.

۳۴. د فبروري پر ۱۱ او ۱۲ نېټه، د سیمه ییزو زیربنایي پروژو د امنیت د ډاډمن کولو په اړه د افغانستان-ترکمنستان ګډ ورکشاپ په ترکمنستان کې ترسره شو. دغه ورکشاپ د سیمه ییزې زیر بنا په اړه د اسیا زړه – استانبول پروسې د باور جوړونې د اقدام یوه برخه وه چې په اروپا کې د امنیت او همکارۍ د سازمان له خوا یې ملاتړ شوی و. مباحثې د ټاپي ګازو نل لیکې او د ترکمنستان-افغانستان-پاکستان د برېښنا د لیږدې پروژو په ګډون د سیمه ییزې زیربنا پر پراختیا متمرکزې وې.

۳۵. د فبروري پر ۱۲ نېټه، په یوه ګډه اعلامیه کې د ګډ امنیت د تړون سازمان غړو په افغانستان کې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې او نورو تروریستي ډلو په ګډون د نظامي او سیاسي وضعیت په اړه خپل اندېښنه څرګند کړه. دوي د تروریستي ګواښ او د نشه يي توکو د تولید او قاچاق ترمنځ اړیکه په ډاګه کړه او د سولې د خوندیتوب لپاره يې د نړیوالې ټولنې د هڅو هرکلی وکړ.

### ۳. بشري حقونه

۳۶. یوناما په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۹ کال خپل کلنی راپور د فبروري پر ۲۲ خپور کړ. په ۲۰۰۹ کال کې د سیستماتیکې مستندونې له پیل راهیسې، یوناما له ۱۰۰۰۰۰ څخه زیات ولسي مرګ ژوبله مستند کړې چې له ۳۵۰۰۰ څخه زیات يې وژل شوي او ۶۵۰۰۰ نور يې ټپي شوي. نوموړې ادارې په ۲۰۱۹ کال کې ۱۰۳۹۲ ملکي تلفات (۳۴۰۳ مړه او ۶۹۸۹ ټپیان) مستند کړي، چې پرلپسې شپږم کال دی چېرې هر کال له ۱۰۰۰۰ څخه زیات ملکي تلفات مستند شوي. دا د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۵ سلنه کموالی په ډاګه کوي. دغه کموالي د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې د کمښت له امله رامنځ ته شوی. نورو لورو ته منسوب شوي ملکي تلفات په ځانګړې ډول طالبانو او نړیوالو نظامي ځواکونو ته لوړ شوي. ښځې او ماشومان د ملکي تلفاتو ۴۲ سلنه جوړوي. یوناما په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله، د روان کال په جنوري میاشت کې په ولسي مرګ ژوبله کې د پام وړ کموالی مستند کړی.

۳۷. لا اوس هم زیاتره ملکي تلفات (۶۲ سلنه) د دولت ضد عناصرو له خوا رامنځ ته کیږي، چې ۴۷ سلنه يې طالبانو، ۱۲ سلنه يې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې او پاتې نور يې نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي. د نړیوالو نظامي ځواکونو د ۸ سلنې په ګډون، دولت پلوه ځواکونو ۲۸ سلنه ملکي تلفات اړولي. یوناما نړیوالو نظامي ځواکونو ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې ۱۸ سلنه زیاتوالی مستند کړی. د افغان ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو له خوا رامنځ ته شوي ملکي تلفات ۳ سلنه زیات شوي. د جګړې د ښکیلو خواوو ترمنځ د ډزو د تبادلې په پایله کې د رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو په ګډون، پاتې نور هغه يې د هغو پېښو له امله رامنځ ته شوي کومې چې نه دولت ضد عناصرو او نه هم دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کیدای شي.

۳۸. د لاس جوړ چاودیدونکې انتحاري او غیر انتحاري وسیلې د ولسي مرګ ژوبلې مخکښ لامل پاتې شوی چې د ټولو ملکي تلفاتو ۴۲ سلنه وړاندې کوي، په تعقیب يې ځمکنۍ نښتې (۲۹ سلنه) او هوايي عملیات (۱۰ سلنه) د دغو تلفاتو مخکښ لاملونه ګڼل کیږي. په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ۲۰۱۸ کال په پرتله د دولت ضد عناصرو له خوا د لاس جوړ چاودیدونکو غیر انتحاري وسیلو له امله په ملکي تلفاتو کې ۲۴ سلنه زیاتوالی مستند کړی. د دولت پلوه ځواکونو د هوايي او چاپېزو عملیاتو له امله ملکي تلفاتو د ریکارډ لوړو کچو ته رسیدلي چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله په ترتیب سره ۳ او ۲ سلنه لوړ شوي. یوناما دغه راز د ټاکنو اړوند چارواکو او مرکزونو، قاضیانو، څارنوالانو، روغتیايي کارمندانو او مرستندویه کارکوونکو په ګډون د دولت ضد عناصرو له خوا د ولسي وګړو او ملکي شیانو دوامدار په نښه کول او د شیعه مذهبه مسلمانانو په ضد دوامداره بریدونه مستند کړي.

۳۹. د اکتوبر د ۱ او ډسمبر د ۳۱ ترمنځ، په وسله واله جګړه کې د ماشومانو په ضد د جدي سرغړونو د څارنې او راپور ورکونې هیوادنې کاري ځواک ۶۸۷ صریح سرغړونې تایید کړې چې ۶۵۳ ماشومان (۱۸۶ نجونې او ۴۶۷ هلکان) يې اغیزمن کړي، چې زیاتره يې طالبانو، افغان ملي اردو او د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوب شوي. شا و خوا ۲۳۷ پېښې د ۲۱۴ ماشومانو د وژنې او د ۴۰۵ نورو (۱۸۵ نجونې او ۴۳۴ هلکان) د ژوبلې لامل شوي. نوموړې کاري ځواک د ماشومانو ۳۲۴ تلفات مخالفو وسله والو ډلو او ۱۸۳ هغه يې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي. سربېره پر دې، کاري ځواک د ماشومانو ۸۱ تلفات مخالفو وسله والو ډلو او دولت پلوه ځواکونو ته په ګډه منسوب کړي. شا و خوا ۷ ماشومان د پاکستان له خوا د پولې په اوږدو کې د توپونو د ګذارولو له امله ټپي شوي، او د ماشومانو ۲۴ تلفات نه شوای کیدای د جګړې کومې مشخصې خوا ته منسوب شي.

۴۰. کاري ځواک د طالبانو له خوا د ۱۹ هلکانو چې عمرونه یې د ۱۰ او ۱۷ کلونو ترمنځ وو، د ګمارنې او کارونې شپږ پېښې تایید کړې، چې ۱۸ هغو یې د ملاتړ او جګړه ییز نقشونه درلودل. کاري ځواک د ۱۰ هلکانو (طالبانو ته منسوب شوي) او یوې نجلۍ (افغان ملي پولیسو ته منسوب شوي) د جنسي تاوتریخوالي دوه پېښې تایید کړې.

۴۱. نږدې ۱۸ بریدونو ښوونځي او اړوند کارمندان اغېزمن کړي، چې د تیرې ربع د ۲۵ هغو په پرتله لږ څه کموالی په ډاګه کوي. د ۱۸ پېښو له جملې ۹ هغه یې طالبانو، ۲ یې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې، ۲ یې نا معلومو دولت ضد عناصرو، ۲ یې د ملي امنیت ریاست، ۱ یې افغان ملي اردو، ۱ یې نړیوالو نظامي ځواکونو او ۱ یې د پاکستان له خوا د پولې په اوږدو کې د توپونو ګذارولو ته منسوب شوي.

۴۲. کاري ځواک د روغتونونو او د خوندي شوي پرسونلو په ضد ۱۰ بریدونه تایید کړې، چې د راپور ورکونې د تیرې مودې د ۲۶ بریدونو په پرتله کموالی په ډاګه کوي. بریدونه طالبانو (اته) او د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې او ملي اردو (هر یوه ته یو یو) ته منسوب شوی، او د روغتیایي کارمندانو عمدي وژل یا ژوبلول، ګواښونه، تهدیدونه، تښتونه، زیان، لوټل، چاپه اچول او عمدي هدف ګرځول په کې شامل دي. کاري ځواک د افغان ملي اردو له خوا د یوه کلینیک نظامي کارونه تایید کړې.

۴۳. په ډسمبر میاشت کې، یوناما په کندهار او هلمند ولایتونو کې د راډیویي خپرونو، په بامیانو ولایت کې د علماؤو او مدني ټولنې سره د مراسمو، او د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون سره په همغږۍ کې د یوې روزنې په ګډون، په ټول هیواد کې د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي د مخنیوي د ۱۶ ورځنې نړیوال کمپاین د یوې برخې په څیر فعالیتونه تنظیم کړي وو. همدارنګه د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق (یونیسف) په هرات ولایت کې د جوماتونو له لارې د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي د مخنیوي په اړه د پیغامونو د خپرولو لپاره د دیني مشرانو د ښکیلولو په موخه له فعالیتونو سره مرسته کړې.

۴۴. په جنوري میاشت کې، د لوي څارنوال دفتر خبر ورکړ چې په تیر مالي کال کې یې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي شا و خوا ۲۹۷۵ قضیې ثبت شوې وې چې تر هغه په پخوا مالي کال کې د ۲۷۰۱ ثبت شویو قضیو په پرتله لږ څه زیاتوالی په ډاګه کوي. د دغو قضیو له جملې له نیمه یې د لږ کمو په اړه یې قضاوت شوي، ۸۱۴ یې د قربانیانو له خوا بېرته اخیستل شوي، ۱۷ یې د شواهدو د نشتون له امله تړل شوي او ۷۳۳ یې تر کار لاندې دي.

۴۵. د کورنیو چارو د وزارت د جنسي ځورونې د شکایتونو د کمیسیون د ملاتړ کمېټې د پرانیستې په ناسته کې چې د ډسمبر پر ۲۱ ترسره شوه، وزیر خبر ورکړ چې د ۲۰۱۸ کال د مارچ له ۲۱ څخه د ۲۰۱۹ کال د مارچ تر ۲۰ نېټې پورې د څلورو قضیو په پرتله، د مارچ له ۲۱ نېټې راهیسې د جنسي ځورونې هیڅ راپور نه دی ورکړل شوی. د فبروري پر ۱۲ نېټه، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په امنیتي او دفاعي سکتور کې د ښځو د ځورونې په اړه یو راپور خپور کړ. د افغان ملي اردو، افغان ملي پولیسو او د ملي امنیت د ریاست له ۲۲۷۲ ښځینه کارمندانو څخه ۸۴.۵ سلنې یې راپور ورکړی چې په کار کې د خوندیتوب احساس کوي، په داسې حال کې ۶.۶ سلنې یې له ځورونې سره د مخ کیدو خبر ورکړی او ۶.۲ سلنې یې راپور ورکړی چې د خپلو همکارانو له خوا د ځورونې له امله یې دندې خوشې کړې.

۴۶. د جنوري پر ۱۵ نېټې، ولسمشر یو فرمان صادر کړ چې هدف یې د زندان په سیستم کې د اصلاحاتو رامنځ ته کول و. له فرمان سره سم، د محابسو او توقیف ځایونو عمومي ریاست به د کورنیو چارو له وزارت څخه جلا او یوه خپلواکه ملکي اداره ګرځي. اوس مهال د کورنیو چارو وزارت، د دفاع وزارت، عدلیې وزارت او د ملي امنیت د ریاست تر حمایت لاندې ټولې نظارت خونې، توقیف ځایونه او زندانونه به د دغه ریاست تر کنټرول لاندې راشي کوم چې د توقیف ځایونو لپاره د مسوولیتونو د معرفي کولو دنده لري.

۴۷. د رسنیو کارکوونکي او د بشري حقونو مدافعین لا اوس هم د ګواښونو او تاوتریخوالي له امله اغېزمن کیږي. د راپور ورکولو په موده کې، دربو ژورنالستانو (د یوې ښځې په ګډون) ته د دولت ضد عناصرو له خوا ګواښونه شوي په داسې حال کې چې یو بل یې په هلمند ولایت کې په یوه چاودنه کې ټپي شوی. په ۲۰۱۹ کال کې، د حکومت او رسنیو ګډې

کمېټې د ۱۰ وژنو او ۲۱ ژوبلو په ګډون د ژورنالستانو او د رسنیو د کارکوونکو په ضد د تاوتریخوالي د ۱۱۶ قضیو راپور ورکړی، چې د ۲۰۱۸ کال په پرتله ۴۱ سلنه کموالی په ډاګه کوي. د ژورنالستانو او د رسنیو د کارمندانو د ساتنې مقرره د کابینې له خوا د فبرورۍ پر ۱۰ نېټه تصویب شوه. مقرره لا تر اوسه په رسمي جریده کې نه ده خپره شوې، د مدافعې د ډلو له خوا د نوموړې مقررې هرکلی شوی.

۴۸. د فبرورۍ پر ۱۸ نېټه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون یو راپور خپور کړ چې په لوګر ولایت کې په ښوونځیو او نورو ځایونو کې د جنسي تیرې باوري شواهد تاییدول. د بشري حقونو پنځو مدافعینو چې په نوموړي ولایت کې د بچه بازۍ د کړنې په څیړلو کې ښکیل وو، د دولتي او نا دولتي فعالینو له خوا د جدي ګواښونو له ترلاسه کولو وروسته د افغانستان پرېښودو ته اړ شول. د راپورونو له مخې د لوي څارنوال د دفتر په مشرۍ د بچه بازۍ د تورونو څېړنې د ۱۸ شکمنو کسانو له جملې د ۸ هغو په نېونه او د دریو نورو هغو شکمنو د نیونې لپاره چې هیواد یې پرېښې د جنايي پولیسو نړیوال سازمان ته په یوې غوښتنې تمامې شوي. اووه نور شکمن کسان لا تر اوسه نه دي نیول شوي.

۴۹. یوناما د ډسمبر پر ۱۰ نېټه د بشري حقونو د نړیوالې ورځې د لمانځلو لپاره په اتو ولایتونو کې مراسم تنظیم کړي وو. دغو مراسمو رسنۍ، د بشري حقونو مدافعین او دولتي همکاران سره راغونډ کړي وو څو د بشري حقونو نړیوالتوب ته وده ورکړي. په دغو مراسمو کې ۵۷۶ ګډونوالو ګډون کړی و، چې ۱۹۹ هغه یې مېرمنې وې. په جنورۍ میاشت کې، یوناما د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د کمیشنرانو لپاره یو درې ورځنۍ ورکشاپ په دې موخه تسهیل کړ، څو د اوسنیو خبرو اترو په اړه د قربانیانو د لید لورو په ګډون د سولې، بشري حقونو او انتقالي عدالت اړوندو موضوعګانو په تړاو د هغوی د مشارکت د فرصتونو په اړه مباحثې ترسره کړي.

### ۴. د پرمختیایي مرستې همغږي

۵۰. یوناما د افغانستان په اړه د وزیرانو د کچې د ژمنو د ۲۰۲۰ کال کنفرانس لپاره په تیاریو کې د بالقوه کوربانو په ګډون له دولت او مرستندویانو/ډونرانو سره خپله همکاري جاري ساتلې. دغه کنفرانس د دې لپاره دی چې د لېږد لسیزې (۲۰۱۵-۲۰۲۴) د وروستیو څلورو کلونو لپاره تمویلوونکي مرستندیان معلوم کړي. د ژمنو په تر ټولو وروستي کنفرانس کې چې په ۲۰۱۶ کال کې په بروکسل کې ترسره شو، مرستندویانو د ۱۵.۵ بیلیونه امریکايي ډالرو ژمنه کړې وه. د ډسمبر پر ۱۷ نېټه، له ډونرانو سره تر سختو سلا مشورو وروسته د جنیوا د دوه اړخیزې حساب ورکونې د چوکاټ په اړه دربیم ربعوار راپور خپور شو. د جنورۍ پر ۷ نېټه، د مالیې وزارت ومنله چې د جنیوا د دوه اړخیزې حساب ورکونې د چوکاټ په اړه به پر کلني راپور کار کوي، کوم چې به د نور هغو په ګډون د سیاسي، پرمختیایي او له اداري فساد سره د مبارزې د اړوندو ساحو په ګډون د ۲۴ ټولو شاخصونو د پرمختګ په اړه معلومات رانغاړي.

۵۱. نړیوال بانک په افغانستان کې د پرمختیا په اړه په خپل راپور کې چې د جنورۍ پر ۲۲ نېټه خپور شو د دې یادونه کړې، چې د هیواد اقتصاد په ۲۰۱۹ کال کې په اټکلي ډول ۲.۹ سلنه وده کړې چې له وچکالۍ څخه تر رغیدو وروسته د پیاوړې کرنیزې ودې په پایله کې رامنځ ته شوې، او د سیاسي بې باورۍ اغیز خصوصي باور او پانګونه راکم کړې. راپور د دولت لپاره د دې اړتیا یادونه کړې، چې د سوداګرۍ او له اداري فساد سره د مبارزې د اصلاحاتو په برخه کې پرمختګونه چټک کړي څو د پانګه اچوونکو باور پیاوړی شي. څرنګه چې تمه کیږي چې په ۲۰۲۰ کال کې به اقتصادي وده کمه وي، افغانستان به په پراخ ډول پر مرستو متکي پاتې شي.

۵۲. دولت د حکومتولۍ د اصلاحاتو تطبیقول جاري ساتلي. د جنورۍ پر ۱۹ نېټه، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون د موثرو او بې طرفه ملکي خدمتونو لپاره چې وکولای شي د اقتصادي پراختیا موخو ته وده ورکړي د ۲۰۲۰-۲۰۲۵ مودې لپاره خپل ستراتیژیک پلان پیل کړ. د فبرورۍ تر ۱۱ پورې، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې له ۳۴ په ۲۸ ولایتونو کې ځايي چارواکو ته د ځايي شوراګانو د قانون په اړه معلومات ورکړل، په کوم کې چې د شوراګانو راتلونکي ټاکنې معرفي شوې او پر ځايي ادارو د ځايي شوراګانو څار تسهیل شوی.

۵۳.	د راپور ورکولو له تیرې مودې سره سم له اداري فساد سره د مبارزې د عدلي مرکز پایلې په ټېټه کچه پاتې دي. د ډسمبر له ۱ د فبروري تر ۱۶ پورې، د نوموړي مرکز ابتدایي محکمې د دربو قضیو او د استیناف محکمې یې د اوو قضیو په اړه قضاوت کړی. په دې سره، په ۲۰۱۶ کال کې د دغه مرکز له پرانستل کیدو راهیسې د دغه مرکز له خوا د قضاوت شویو قضیو ټولټال شمیر د ۲۶۰ متهمینو په درلودو ۶۸ ته ورسید، چې په ابتدایي محکمه کې د ۲۰۸ مجازاتو او د ۵۰ د خوشې کیدو لامل شوي. د مرکز له تاسیس راهیسې، استیناف محکمې د ۱۹۳ متهمینو په درلودو سره د ۵۹ قضیو په اړه قضاوت کړی، چې د ۱۷۴ د مجازات کیدو او د ۱۹ نورو د خوشې کیدو لامل شوي. د جنوري پر ۱۵ نېټه، د استنیاف محکمې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د پخوانیو اوو کمیشنرانو او د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمسیون د پخوانیو دریو کمیشنرانو مجازات تایید کړل ځوک چې د ۲۰۱۸ کال د ولسي جرګې د ټاکنو پرمهال د رایو په شمیرو کې پر ادلون بدلون ګرم پیژندل شوي وو. کمیشنرانو د دغې پریکړه په اړه د استنیاف غوښتنه کړې وه او استدلال یې کاوه چې هغه د سیاسي انګیزې لرونکې وه.

۵۴.	له اداري فساد سره د مبارزې اړوند په عدلي تعقیبونو کې د قانون د تنفیذ د چارواکو ترمنځ د همغږۍ په ښه کولو کې محدود پرمختګ شوی. له لویو جرمونو سره د کاري ځواکو اصلاحات لا نه دي بشپړ شوي چې له امله یې له اداري فساد سره د مبارزې عدلي مرکز د یوه فعال پولیسي عنصر له درلودو بې برخې پاتې شوي. د ډسمبر پر ۲۴ نېټه، د لوي څارنوال دفتر او د کورنیو چارو وزارت د نیونې د حکمونو ګډه کمېټه تاسیس کړه څو د نیونې د نا ترسره شویو حکمونو عملي کول ښه کړي. د اداري فساد د جدي قضیو اړوند د نېونې د ۲۵۵ نا ترسره شویو حکمونو څخه تر دې دمه یوازې ۹۴ هغه یې ترسره شوي.

۵۵.	له اداري فساد سره د مبارزې د ۲۰۱۷ کال د ملي ستراتیژۍ موده د کوم ځای ناستي سند پرته پای ته ورسیده، چې له امله یې افغانستان د اداري فساد ستونزې ته د رسیدګۍ لپاره د چوکاټ د کوم سند درلودلو پرته پاتې شو. په داسې حال کې چې د ښاغلي غني په مشرۍ د حکومتولۍ، قانون د واکمنۍ او له اداري فساد سره د مبارزې عالي شورا د خپلو غونډو شمیر زیات کړي او د راپور ورکولو په موده کې دری ځله سره ناست دي، نوموړې شورا د نوې ستراتیژۍ د جوړولو لپاره شرایط نه دي برابر کړي. د ۲۰۱۹ کال په اکتوبر کې تر سپارلو/پریزنټیشن وروسته، د عالي شورا له خوا له اداري فساد سره د مبارزې د اصلاحاتو د تسریع موقت پلان له تصویب پرته تسجیل شو. د ۲۰۲۰ په جنوري کې، ښاغلي غني د مالیې وزارت، د لوي څارنوال له دفتر، له دولتي ادارو د خلکو د شکایتونو د غور او څیړنې د دفتر، مدني ټولنې او د افغانستان د څار ادارې له استازو څخه تشکیل تخنیکي ادارې ته دنده وسپارله څو د پخوانۍ ستراتیژي اغیز وارزوي.

۵۶.	د ډسمبر پر ۱۶ او ۱۷، سترې محکمې د ۲۰۱۸ کال د جزا د قانون په اړه په ځایي کچه د تعقیبونې لومړنې کنفرانس تنظیم کړ. ګډونوالو هغه لوستونه راغونډ کړي وو چې د نوموړي قانون له تطبیق څخه زده شوي وو. د ډسمبر له ۱۴ تر ۳۱ پورې یوناما د لوي څارنوال د دفتر د نړیوالو جرمونو د ریاست د ظرفیت د پیاوړي کولو لپاره روزنه او سلا مشورې برابرې کړي څو د جګړې اړوند د بشري حقونو د جدي سرغړونو قضیې وڅیړي. نوموړی ریاست شا و خوا ۲۰ قضیې څیړي چې تر اوسه هیڅ یوه یې د متهم کولو لامل نه ده شوې.

**۵. بشري مرستې**

۵۷.	په ۲۰۱۹ کال کې له ۶.۳ میلیونو څخه په ۲۰۲۰ کال کې په اټکلي ډول شا و خوا ۹.۴ میلیونه خلک بشري او حمایوي مرستو ته اړتیا لري. دغه زیاتوالی د رواني جګړې او د اړتیاوو د شنې د زمینې د پراختیا له امله رامنځ ته شوی څو هغه شدیدې بشري اړتیاوې راونغاړي چې د اوږد مهالو ناورینونو او له چټکو شاکونو وروسته د جبران د نشتون په پایله کې رامنځ ته شوي. د نومبر د ۱۱ او د فبروري د ۱۸ ترمنځ، د جګړې له امله له ۴۲۰۰۰ څخه زیات خلک تازه بېځایه شوي چې په دې سره د ۲۰۱۹ کال له پیل راهیسې د هغو کسانو ټولټال شمیر چې خپل کورونه یې پرېښي له ۴۶۳۰۰۰ څخه لوړ شو. د دغو وګړو له نیمه یې زیاته برخه (۵۸ سلنه) یې ماشومان دي. د اټکلونو له مخې له ۲۰۱۲ کال راهیسې

۴ میلیونه خلک بېځایه شوي، چې زیاتره یې په غیر رسمی میشت ځایونو کې بنسټیزو خدمتونو ته له محدود لاس رسي سره او خپلو اصلي کورونو ته د بېرته ستنیدنې لپاره له کمې غوښتنې سره ژوند کوي.

.۵۸ جګړه لا اوس هم د ترما خدمتونو لپاره د لوړو کچو تقاضا رامنځ ته کوي. د نومبر له ۱۱ څخه د فبروري تر ۱۸ پورې، له ۱۸۵۰۰ څخه زیات خلک د جګړې اړوند ترمايي زیانونو لپاره تداوي شوي چې په تیر کال کې د ورته مودې په پرتله ۱۶ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. د ترمايي قضیو له هرو دریو یوه هغه یې ښځه یا ماشوم دی. په ۲۰۱۹ کال کې نږدې ۳۹۰۰۰۰ امیندواره یا ماشوم ته شیدې ورکوونکو ښځو او ماشومانو له بنسټیزو روغتیايي خدمتونو او روغتیايي پوهې څخه ګټه پورته کړې. د نومبر له ۱۱ د فبروري تر ۱۸ پورې، د روغتیايي برخې همکارو ادارو له ۵۲۰۰۰ څخه د زیاتو خلکو لپاره چې ۶۲ سلنه یې ښځې او نجونې وې، طبي مرستې برابرې کړې. له ۱۲۹۰۰۰ څخه زیاتو ښځو او نجونو د زیږون روغتیايي خدمتونو ته لاس رسی درلود چې نږدې ۶۴۰۰ هغو یې د خپل وقار د اساسي اړتیاوو د پوره کولو لپاره روغتیايي توکي تر لاسه کړي. سربیره پر دې، د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي ۶۳۶۷ قربانیانو له ۳۴ په ۲۶ ولایتونو کې د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي د مخنیوي او غبرګون خدمتونو ته لاس رسی درلود.

.۵۹ په ټول افغانستان کې، ۲۵ ولایتونه د سختې خوارځواکۍ له بیړني حد څخه پورته دی، چې په اټکلي ډول په ۲۰۲۰ کال به له ۳ میلیونه څخه زیاتې ښځې او ماشومان له خوارځواکۍ سره مخ وي. په میلیونونو وګړي لا اوس هم په ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کلونو کې له وچکالۍ څخه د رغیدو په هڅه کې دي. د ۲۰۲۰ کال د مارچ تر پای پورې، اټکل شوې چې ۱۴.۳ میلیونه وګړي به د خوړو د ناخوندیتوب له ناورین او بیړني حالت له کچو سره مخ وي. د ۲۰۱۹ کال په اوږدو کې، د تغذیې د کلسټر همکارو ادارو د سختې خوارځواکۍ د ۲۳۰۰۰۰ ماشومانو درملنه کړې. د وچکالۍ ځپلو په پخوانیو سیمو کې د نومبر د ۱ او جنوري د ۳۱ ترمنځ ۱۶۵۰۰ وګړو ته خواړه برابر شوي، په داسې حال کې چې د هرې کورنۍ یوه غړي د شتمنۍ پیدا کولو په فعالیتونو کې ګډون کړی، او د باغیس ولایت په قلعه نو کې ۲۸۰۰۰ بېځایه شویو وګړو نغدې مرستې ترلاسه کړي.

.۶۰ د هغو وګړو ترمنځ چې په ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کلونو کې د هیواد په لویدیځ کې د وچکالۍ له امله اغیزمن شوي د پور ناورین رامنځ ته شوی، شمیرې په ډاګه کوي چې اوس به دا د بېځایه شویو داخلي وګړو لپاره په اوسط ډول ۱۶ کلونه وخت نیسي خو بادغیس، یو له هغو ولایتونو ګڼل کیږي چې د وچکالۍ له امله سخت ځپل شوی، ته ستانه شي او دا چې بیرته هغه څه تادیه کړي کوم چې دوي د بېځایه کیدو پرمهال پور کړي وو. د ۲۰۱۹ کال د ډسمبر او د ۲۰۲۰ کال د مارچ ترمنځ، ملګري ملتونه تمه لري چې د غنمو د کر په موسم کې به په ۱۶ ولایتونو کې ۷۱۸۸۵۱ کسانو (۱۰۲۶۹۳ کورنیو) ته د غنمو د تولید له بستو (تخمونو، کیمیاوي سرې او روزنې) سره ورسیږي. ۱۰۵۰۰ کسانو (۱۵۰۰ کورنیو) ته د کور د بیاوالۍ بستې برابرې شوي. سربیره پر دې، ملګري ملتونه دغه راز په دایکندي، فراه او کونړ ولایتونو کې د ۲۰۲۰ کال د جنوري او مارچ ترمنځ د کار په بدل کې د نغدو پیسو فعالیتونه پلان کوي.

.۶۱ د امنیتي او لاس رسي له ننګونو سره سره، د ۲۰۱۹ کال په وروستۍ ربع کې د بشري مرستو ادارې پر دې وتوانیدې چې د هیواد له ۴۰۱ (۹۸ سلنه) ولسوالیو څخه ۳۹۵ هغو ته له مرستو سره رسیدنه وکړي. د دې لپاره چې له تر ټولو د زیاتو زیانمنیدونکو کورنیو سره مرسته وشي څو له ژمي ووځي، ملګرو ملتونو او همکارو ادارو د راپور ورکولو په موده کې د ۱.۸۹ میلیونه وګړو لپاره ۴۱۰۰۰ ټنه د خوړو توکي او ۳.۳ میلیونه د امریکايي ډالرو نغدې مرستې ویشلي. له ۹۵۰۰۰ کورنیو له جملې چې ځانګړو ژمنیو مرستو (زیاتره د تودوخې توکي) ته یې اړتیا درلوده، همکارې ادارې د جنوري تر ۳۱ پورې ۴۳۸۹۸ وګړو ته رسیدلي. د دولت ضد عناصرو له خوا د زیاتو غوښتنو له امله د بشري لاس رسي خبرې اترې خورا ستونزمنې وې.

.۶۲ د نومبر د ۱۶ او د فبروري د ۱۸ ترمنځ افغانستان ته ټولټال ۱۱۶۵۲۵ نا ثبت شوي کسان بیرته ستانه شوي. په دغو کسانو کې له پاکستان څخه ۲۲۵۸ او له ایران څخه ۱۰۴۴۷۶ نا ثبت شوي راستنیدونکي او له نورو هیوادونو څخه ۸۹۰۴ را ایستل شوي افراد شامل دي. په ورته موده کې، له پاکستان څخه ۵۱۹، له ایران څخه ۳۳۳ او له نورو هیوادونو څخه ۳۵ کډوال هیواد ته راستانه شوي. په ۲۰۱۹ کال کې، د ۲۰۱۸ کال په پرتله له ایران او پاکستان څخه

د نا ثبت شویو راستنیدونکو او کډوالو په شمیر کې کموالي موجود و، په داسې حال کې د هغو په شمیر کې زیاتوالی تر سترګو کیده چې له ترکیې راستنیدل (د راپور ورکولو په موده کې ۶۷۲۰ او د ۲۰۱۹ پرمهال ټولټال ۲۵۰۰۰ کسان). د فبروري له ۱۶ تر ۱۹ پورې له پاکستان څخه زما د لیدنې پرمهال، ما د "په پاکستان کې د افغان کډوالو د ۴۰ کلن کورټوب په اړه نړیوال کنفرانس: د پیوستون لپاره نوی مشارکت" تر عنوان لاندې په یوه غونډه کې ګډون وکړ چې په اسلام اباد کې ترسره شوه، کومه چې د پاکستان د حکومت او د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري له خوا په ګډه تنظیم شوې وه.

۶۳. د فبروري پر ۲۴، د افغانستان د عامې روغتیا وزارت په هرات ولایت کې د کرونا وایروس پر ناروغۍ (کوید-۱۹) د اخته لومړي ناروغ قضیه تایید کړه، چیرې چې ځایي حکومت د اضطراري حالت اعلان وکړ. د هیواد د لویدیځې سیمې په یو شمیر ولایتونو کې د نورو شکمنو پېښو په اړه راپور ورکړل شوی. د فبروري پر ۲۶ نېټه ولسمشر غني د مالیې وزارت ته امر وکړ چې د کوید-۱۹ د مخنیوي د هڅو د تمویل لپاره د عامې روغتیا وزارت ته ۱۵ میلیونه امریکایي ډالر او د زیرمې په څیر ۱۰ میلیونه نور امریکایي ډالر تخصیص کړي. نوموړی وزارت د روغتیا له نړیوالې ادارې او نورو شریکانو سره له نږدې پر دې کار کوي چې په هیواد کې د چمتوالي او مخنیوي ظرفیت پراخ او د دغه وایروس د خپریدونو د مخنیوي لپاره هیواد ته د داخلیدو په نکتو کې د تشخیص او چاڼ ظرفیتونه تقویه کړي.

۶۴. په ۲۰۱۹ کال کې د پولیو د ټولټال ۲۹ تایید شویو پېښو راپور ورکړل شوی، چې ۹ یې په اروزګان، ۵ په هلمند، ۶ کندهار، ۱ په پکتیکا، ۱ په کونړ، ۱ په ننګرهار، ۱ په هرات، ۲ په فراه، ۱ په بادغیس او ۱ په بغلان کې راپور شوي. د دغو قضیو له جملې ۲۵ هغه یې د لاس رسي نه وړ په هغو سیمو کې رامنځ ته شوي چیرې چې د طالبانو له خوا د ۲۰۱۹ کال د مۍ راهیسې د معافیت د کور په کور کمپاینونو بندیز لګول شوی.

۶۵. له نومبر څخه تر جنوري پورې، له جګړې څخه پاتې شونو چاودیدونکو توکو او پرسونل ضد ماینونو د ماشومانو ۱۳۴ تلفات اړولي، چې ۴۹ ماشومان یې وژلي او ۸۵ نور یې ټپي کړي. بامیان یوازینی هغه ولایت دی چې په افغانستان کې د جنډر له پلوه د ماین پاکۍ د یوازینۍ ګډ ټیم له کار وروسته د ځمکنیو ماینونو له ککړتیا څخه پاک اعلان شو. د ورته مودې پر مهال، ملګرو ملتونو او همکارو ادارو ۷.۴۳ کیلو متر مربع ځمکه چې د لوړ اغیز درلودونکي چاودیدونکي توکي یې درلودل پاکه کړې، چې ۳۶۶۸۳۰ وګړي ور څخه مستفید شوي. د اټکلونو له مخې ۱۲۷۷۱۴ وګړي چې له پاکستان او ایران څخه راستانه شوي د ملګرو ملتونو او همکارو ادارو له خوا یې د ماینونو د خطر په اړه روزنه او پوهاوی تر لاسه کړي.

۶۶. پراخه نا امني، د ځمکنیو ماینونو ککړتیا او سخته جغرافیه لا اوس هم د بشري لاس رسي او مرستندویه کارمندانو د امنیت او خوندیتوب لپاره ننګونې ګڼل کیږي. د نومبر له ۱۶ د فبروري تر ۱۸ پورې، ۱۲ مرستندویه کارمندان وژل شوي، ۱۷ ټپي شوي او ۸ نور تښتول شوي. په ۲۰۱۹ کال کې د مرستندویه کارکوونکو له خوا د لاس رسي اړوند د ۴۳۹ قضیو راپور ورکړی چې د ملګرو ملتونو له خوا ثبت شوی تر ټولو لوړ شمیر ګڼل کیږي. له دغو پېښو له جملې ۱۳۶ هغو یې د اړوندو روغتیایي پرسونل، توکو او مرکزونو له خوا د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول اغیزمن کړي.

۶۷. په ۲۰۱۹ کال کې په بشري تمویلونه کې ټولټال ۴۶۵.۳ میلیونه امریکایي ډالر یا د ټولو تمویل اړینه ۷۶ سلنه ترلاسه شوې. دغه کار بشري غبرګون د دې وړ کړ چې په ټول هیواد کې ۶ میلیونه وګړو ته د ژوند ژغورنې له مرستې سره رسیدنه وکړي. د ۲۰۲۰ کال د بشري غبرګون د پلان لپاره د ټولټال ۷۳۳ میلیونه امریکایي ډالرو لپاره اړتیا ده چې د ۷.۱ میلیون وګړو د ژوند ژغورنې څو اړخیزو اړتیاوو ته رسیدنه وشي. د مالي څرک معلوماتو د خدمتونو له معلوماتو سره سم، دغه پلان د فبروري تر ۱۹ نېټې پورې ۱ سلنه تمویل شوی.

**۶. له نشه یي توکو سره مبارزه**

۶۸. د ډسمبر له ۱ او د جنوري تر ۳۱ پورې، د قانون نافذوونکو چارواکو د نشه یي توکو پر وړاندې ۵۵۶ عملیات ترسره کړي چې په پایله کې یې ۴۰۴ کیلو ګرامه هیروین، ۲۶۵۶ کیلو ګرامه آپیوم، ۳۳۶۷۳۶ کیلو ګرامه چرس، ۱۴۴ کیلو

ګرامه مفامفتامين، ۱۱۰۰ مفامفتامين تابليټونه، ۲۴ کيلو ګرامه جامد کيمياوي پيش سازه توکي، ۱۰۳۱ ليټره کيمياوي پيش سازه مايع توکي نيول شوي. د دغو کوتو له ضبط سره ۸۸۲ شکمن کسان او ۱۱۷ نقليه وسيلې او ۳۷ وسلې هم نيول شوي. د عملياتو د ترسره کولو پرمهال له نشه يي توکو سره د مبارزې پوليسو يو افسر وژل شوی.

۶۹. د لومړنيو شننو سره سم، د مفامفتامينونو د نيونې حجم په ۲۰۱۸ کې له ۱۸۲ کيلو ګرامو څخه په ۲۰۱۹ کال کې ۱۲۵۱ کيلو ګرامو ته لوړ شوی، کوم چې يو را څرګنديدونکی ګواښ په ډاګه کوي. د راپور ورکولو په موده کې، د عامې روغتيا وزارت د نشه يي توکو د تقاضا د راکمونې رياست د ملګرو ملتونو په ملاتړ د نشه يي توکو د درملنې پنځه مرکزونه پرانيستل. دغه مرکزونه د ماشومانو او د هغوي د کورنيو لپاره د نشه يي توکو د اختلالاتو د مخنيوي او درملنې لپاره خدمتونه وړاندې کوي.

۷۰. د فبروري پر ۱۳ نېټه، لوي څارنوالۍ راپور ورکړ چې د کابل د نشه يي توکو سره د مبارزې د پوليسو د رياست رييس او مدير د نشه يي توکو له قاچاقبرانو سره د اړيکې په تور په ترتيب سره د ۱۷ او ۷ نيمو کلونو د بند پر سزا محکوم شوي. د نوموړي رياست دوه نور چارواکي د ورته تورونو له مخې پر يو نيم کلن بند محکوم شوي.

### ۷. د ماموريت ملاتړ

۷۱. د ډسمبر تر ۳۱، په ترتيب سره، د ۷ سلنې، ۵ سلنې او ۳ سلنې د منل شويو کچو په پرتله، په يوناما کې د نړيوالو کارکونکو لپاره د تشو پوستونو کچه ۷ سلنه، د داخلي مسلکي افسرانو لپاره ۴ سلنه او د داخلي کارکونکو لپاره ۳ سلنه وه. د نړيوالو کارکونکو لپاره د ۳۵ سلنې، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره د ۴۲ سلنې او د داخلي مسلکي کارکونکو لپاره د ۱۱ سلنې او د داخلي کارکونکو لپاره د ۸ سلنې په درلودلو سره د ښځينه کارکونکو تناسب ټيټ پاته شوی. د اکتوبر د ۱ او د ډسمبر د ۳۰ تر منځ، يوناما د سړک له لارې ۹۹ ماموريتونه او د هوا له لارې ۱۸ ماموريتونه ترسره کړي او همدارنګه يې د رسيدنې ټولټال ۹۸۳ ماموريتونه ترسره کړي د کومو په جريان کې چې د ولسواليو استازو د يوناما د محلي دفترونو څخه ليدنې کړي.

### ۸. کتنې

۷۲. د راپور ورکولو د مودې په جريان کې يو شمير ستر پرمختګونه د کومو موخه چې په افغانستان کې د پايښت لرونکې سياسي حل لارې ترلاسه کول و موجود وو. د يوې نښې راتلونکې لپاره د افغانستان د خلکو د غوښتنو او توقعاتو سره په سمون کې، د ۴۰ کلنې شخړې، نيستي او اجباري بې ځايه کيدنې د شامنظر پر وړاندې، د سولې لپاره د موجوده تاريخي فرصت څخه بايد ګټه پورته شي. ټول افغان مشران او د نړيوالي ټولنې غړي بايد هر څه ممکنه کړنې ترسره کړي تر څو د سولې لپاره لرليدونه تحقق ومومي.

۷۳. د اوږده او سيالۍ وړ بهير د پای ته رسيدو وروسته، د واک ديموکراتيک ليږد د ملت د ګټو د پر مخ بيولو لپاره يو فرصت رامنځ ته کړ. زه د افغان نارينه وو او ښځو زړورتيا او عزم ته چا چې د رايه ورکونکو، نوماندانو، کمپاين او ټاکنيزو کارکونکو او کتونکو په حيث د رايي اچونې په بهير کې ګډون وکړ، سلام کوم. زه باور لرم چې نوی حکومت به د خلکو هيلې پوره کړي او د تنوع په صورت کې به د افغانستان پياوړتيا څرګنده کړي. هيواد د جدي امنيتي، اقتصادي او پراختيايي ننګونو سره مخ دی او د دې لپاره چې پرمختګ يقيني شي، د دغو مسلو د هوارولو په خاطر جدي پاملرنې ته اړيتا ليدله کيږي.

۷۴. يواځې په تيرو ۱۱ کلونو کې، د ملکي تلفاتو کچه د ۱۰۰۰۰۰ څخه واوښته. د دې لپاره انساني کړاو او د فرصتونو له لاسه ورکول کومو چې د افغان نارينه وو او ښځو نسلونه اغيزمن کړي، نه شی محاسبه کيدلای. زه د په لاس جوړ چاوديدونکو توکو د کارونې، او همداراز د هوايي بريدونو او چانيزو عملياتو د اغيزو له لارې په ملکيانو د عمدي بريدونو له خوا د را منځ ته شويو ملکي تلفاتو د لوړو کچو په اړه په ځانګړې توګه اندېښمن يم. د دې لپاره چې په ملکيانو د وسله والې شخړې د اغيزو د له منځه وړلو په برخه کې مرسته وشي، د بشر پالنې او د بشري حقونو ژمنې په پام کې ونيول شي او همداراز ترلاسه شي، ملګري ملتونو له ټولو خواوو سره ښکيتيا ته دوام ورکوي.

۷۵. د افغانانو لپاره هغه صحنې چې په یوه لا خوندي چاپیریال کې چې د تاوتریخوالي د کمولو په پایله کې را منځ ته شوی د ځان لپاره مهلت لټوي، ډېرې هڅوونکې دي. افغانان د بېلابېلو مذهبی، قومي او مدنی ټولنی د ډلو څخه په کلکه د سولې غوښتونکی دي. زه هیله لرم چې د ټولو افغانانو د ګټې لپاره به د هیواد په کچه په تاوتریخوالي کې کموالی دوام ومومي. زه د ټولو اړخونو لخوا دوامداره هڅې ستایم تر څو د سولې د یوه جامع بهیر لپاره پیاوړی چاپیریال را منځ ته کړي.

۷۶. په پای کې باید وویل شي چې سوله باید د افغانانو له خواو او د افغانانو تر منځ وشي. زه هیله کوم چې افغنستان ته د سولې د راوستلو لپاره تړون او افغانستان ته د سولې د راوستلو لپاره د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د امریکا د متحده ایالتونو تر منځ اعلامیه، چې دواړه د فبروري د میاشتې په ۲۹ نیټه لاسلیک شوې د بین الافغاني خبرو اترو د پیل د ژر تر ژره ممکنه نیټې پر لور حرکت/خوځښت ته لار هواره کړي. د پایښت لرونکې سیاسي حل لارې او د دایمي اوربند او همداراز په هیواد کې د پایښت لرونکې پراختیا د پر مخ بیولو لپاره مستقیمې خبرې اترې اړینې دي.

۷۷. د دې لپاره چې هر ډول تړون پایښت لرونکی وي باید د ټولو وګړو بشري حقونه او بنسټیزي ازادي ګانې رعایت شي او د ښځو د بشري حقونو په تړاو ترلاسه شوې لاسته راوړنې خوندي کړي. د سولې بنسټ باید پر پراخ توافق ولاړ وي، د سولې په بهیر کې باید د افغنستان سیاسي او ټولنیزه تنوع په پام کې ونیول شي تر څو د ټولنې له خوا د یوې احتمالي حل لارې د منلو لپاره بنسټ برابر کړي. زه د خبرو اترو د پیل په موخه د یوه ټولشموله ټیم د جوړیدو هڅونه کوم.

۷۸. زه، د ښځو، ځوانانو او لږکیو د معنی لرونکې ګډون له لارې د افغانانو تر مشرۍ لاندې د سولې د یوه ټولشموله بهیر په اهمیت ټینګار کوم. د سولې د داسې یوه ټول شموله بهیر د ملاتړ لپاره ملګري ملتونه چمتو دي.

۷۹. په سیمه کې د هیوادونو رغنده رول به د هر ډول بین الافغاني خبرو اترو د بریا د یقیني کولو او همداراز د افغانستان د ټیکاو او اقتصادي پراختیا او پراخ ګاونډیتوب لپاره حیاتي وي. سیمه ییزه سوداګري، د غیر دودیزو ډونرانو ملاتړ او زیات نښلون دوه اړخیزې ګټې دي او د افغانستان د زیاتي په ځان بسایني لپاره به حیاتي وي. د پاکستان سره به په خاص ډول د هیواد اړیکې مهمې وي. زه د هغو نښو نښانو چې په اسلام اباد او کابل کې یې د یادو هیوادونو ادارې د فرصتونو په برخه کې په کار اچوي او هغه لارې چارې چې موخه یې د ښکیلتیااوو بیا تعریف او بدلون دی، هرکلی کوم. د استانبول په اعلامیې سره چې د افغانانو تر مالیکیت او رهبري لاندې د پخلاینې د بهیر لپاره د سیمه ییزو همکارانو له خوا متفقه ملاتړ منعکسوي، زه د آسیا زړه- د استانبول د بهیر د دوامداره خوځښت په واسطه لا تشویق شوی یم.

۸۰. زه د حکومت لخوا د ترسره شویو اقدامونو په واسطه چې موخه یې د ښځو د حقونو ساتنه او ترویج دی هڅول شوی یم. مهمه ده د ښځو لپاره داسې فضا را منځ ته شي چې د تصمیم نیولو په ټولو کچو کې په فعاله توګه ګډون وکړي او ترلاسه شوې لاسته راوړنې ټینګې او د ښځو حقونو ته وده ورکړي. تقنیني محافظتونه باید په بشپړه توګه په ځانګړې توګه په کلیوالي او لرې پرتو سیمو کې تطبیق شي. د جنسي او د جنډر پر بنسټ تاوتریخوالی او د تبعیض آمیزه کړنو دوامداره شیوع د اندیښنې وړ ده. زه د افغانستان په حکومت غږ کوم تر څو د مخنیوي او ساتنې میکانیزمونه پیاوړي کړي او قربانیانو ته کافي ملاتړ برابر کړي او مرتکبین محاکمې ته را کښ کړي.

۸۱. په داسې حال کې چې د رسنیو کارکونکي او د بشري حقونو مدافعین په دوامداره توګه د ګواښ او تاوتریخوالي قربانیان دي، د بیان د ازادي لپاره فضا محدوده پاته شوې. د دې ډول نه منلو وړ بریدونو مرتکبین باید عدالت ته را کښ شي. زه د خبریالانو او د رسنیو د کارکونکو د خوندیتوب لپاره د مقرراتو د تایید هرکلی کوم او همداراز د افغانستان په حکومت د بشري حقونو د مدافعینو لپاره د یوه موثره ساتندویه میکانیزم د را منځ ته کولو او د هغوي د خوندیتوب د یقیني کولو لپاره د تدبیرونو د پلي کولو غږ کوم.

۸۲. په افغانستان کې اقتصادي وضعیت د زیاتي اندیښنې وړ دی. زه د جنیوا د دوه اړخیزې حسابورکونې د چوکاټ د پلي کولو په برخه کې د ترسره شوي پرمختګ، کوم چې په ۲۰۱۸ کال کې تصویب شو، هرکلی کوم. دا باید وساتل شي. د

زیاتو عایداتي کړنو په شمول، حتی د اصلاحاتو په برخه کې د دوامداره پرمختګ سره، اټکل کیږي چې حکومت به د راتلونکي لپاره د پام وړ بودیجې کسرونو ته دوام ورکړي. د عوایدو د کمبود د خطرونو اغیزې د اوږدې مودې پراختیا او د غربت د کمولو لپاره په پرګرامونو کې پانګه اچونه محدودوي. د دې لپاره چې د حکومت د اصلاحاتو وړاندیزونه په مستحکم ډول ځای پر ځای شي او د اقتصادي ودې لوړې کچې بیا رامنځ ته شي او ځاني پایښت ښه او زیات کړي، د تمویل کونکو دوامداره ژمنې به اړینې وي. د ژمنو د تمویل هغه کنفرانس چې تمه کیږي د ۲۰۲۰ کال په ورستیو کې به ترسره شي ځکه مهم دی چې د لیږد د لسیزې په څلورو وروستیو کلونو کې د حکومت سره د اقتصادي موخو او ټولنیزې ځان بسیاینې د تحقق په برخه کې مرسته کوي.

۸۳. د کلونو شخړې او د طبیعي پیښو بیا بیا پیښیدو په شدت سره زیانمنیدونکي وګړي د څو اقتصادي سرچینو، یوه فرسایشي ظرفیت سره چې د نا څرګندو بحرانونو سره مبارزه وکړي او د موجوده حالتونو د دوام په صورت کې د بهبود د کمې هیلې سره مخ کړي. د وچکالي د تیریدو سریره، لوږه او خوارځواکي لا هم په خورا پراخه پیمانه شتون لري، تمه کیږي چې د ۲۰۲۰ کال په لومړیو کې ټولټال ۲۸. ۱۴ میلیون وګړي د بحران یا خوراکي توکو د اظطراري نه مصونیت سره مخ شي. د افغانانو د کړاو د پای ته رسولو په خاطر تر دې دمه د نړیوالو تمویل کونکو څخه د هغوي د سخاوتمندانه غبرګون په خاطر مننه کوم او د هغوي څخه غوښتنه کوم تر څو د مناسبو سرچینو برابرولو ته دوام ورکړي او د بشر پالنې سازمانونو ته فرصت برابر کړي تر څو داسې یو غبرګون تنظیم کړي کوم چې په هیواد کې د اړتیاوو د اندازې سره همغږي ولري.

۸۴. زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکونکو او زما د ځانګړي استازي، تدامیچي یاماماتو څخه، تر ننګونو ډکو شرایطو لاندې چې موخه یې د افغانستان د حکومت او خلکو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو سرته رسول دي، مننه کوم.

---